## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

### د وېب پاڼې عمومي مدیریت

# خبرپاڼه خبر نامه

**7حمل_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه


پاکستان څخه په لسګونو جبري راستني شوي کورنۍ د کمپيو له خدمتونو برخمني شوي-----------------------------1

صد ها خانواده در ولایت ننگرهار، کمک شد ---------------------------------------------------------------------2

په لسګونو تنه مهاجرين په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول---------------------------------------------3

بیش از ۲۰۰ خانواده در ولایت غور کمک شد ------------------------------------------------------------------3

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د حقوقي ملاتړ څانګې مرستيال د باميانو ولايت د مهاجرينو د آمر سره وليدل 4

برای ۲۶۵ خانواده درولایت ارزگان کمک خوراکی توزیع شد -------------------------------------------------------4

راپور: امنيتي ځواکونه انګليس کانال کې د کډوالو د کښتيو د مخنيوي لپاره خطرناک مانورونه کړي -----------------5

مدیر سازمان بین المللی مهاجرت: اظهارات ضد مهاجران در جهان افزایش یافته ------------------------------------7

پاکستان مرحله دوم اخراج اجباری صدها هزار مهاجر و پناهجوی افغان را «آغاز می‌کند»---------------------------8

# متن کامل اخبار

## هیات عالی رتبه کمیته اسکان موقت عازم ولایت پکتیا شد

د وزارت ویب سایت




هیات عالی رتبه کمیته اسکان موقت برای برگشت کننده گان اجباری تحت ریاست مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده‌گان با عضویت نماینده های وزارت های دولت در امور رسیدگی به حوادث، زراعت آبیاری و مالداری و انکشاف دهات عازم ولایت پکتیا شده، با مولوی مهرالله حماد والی پکتیا و مسوولین پیرامون ایجاد سهولت‌های لازم برای برگشت کننده گان در نقطه صفری دنده‌پتان آن ولایت و ایجاد کمیته اجرایی ولایتی دیدار نمودند.

در نشست طرفین پیرامون ایجاد سهولت‌های لازم برای عودت‌کننده‌گان، ایجاد کمیته ولایتی اسکان موقت، ایجاد کمپ موقت، تشناب‌ها و سایر موارد ضروری برای انتقال با عزت برگشت کننده گان اجباری به مناطق اصلی شان بحث نمودند.

طرفین روی تسریع انکشاف کمپ موقت در ولسوالی دنده‌پتان، ایجاد تشناب، تنظیم پروسه بایمتریک مهاجرین و سایر موارد مرتبط فیصله نمودند.

رئیس و اعضای کمیته اسکان موقت مرکزی همراه با مسوولین ولایت پکتیا از کمپ موقت در ولسوالی دنده‌پتان و نقطه صفری در مرز بازدید نمودند.

رئیس کمیته اسکان موقت در دیدار با مسوولین ولسوالی دنده‌پتان، روی آغاز دوباره پروسه اخراج مهاجرین صحبت نموده، گفت: باید تمام امکانات برای رسیدگی به مهاجرین در کمپ اسکان موقت روی دست گرفته شود.

وی افزود که امارت اسلامی افغانستان تعهد دارد تا برای تمام مهاجرین اخراجی اجباری تمام سهولت ها را فراهم نماید و برای آنان در مناطق اصلی شان زمینه معیشت را فراهم نماید.

## پاکستان څخه په لسګونو جبري راستني شوې کورنۍ د کمېټو له خدمتونو برخمني شوې

د وزارت ویب سایت

د جبري راستنېدونکو د ستونزو د حل په موخه د عالي کمېسیون د ګومارل شوو کمېټو د معلوماتو له مخې، د هېواد په پولو کې ۸۰ کورنۍ د ګومارل شوو کمېټو له خدمتونو څخه برخمنې شوې.

د ننګرهار، کندهار، نیمروز او هرات ولایتونو له فرضي کرښو څخه ۳۳ کورنۍ، چې ۸۲ جبري راستنېدونکي پکې شامل وو، د وري پر ۵ مه نېټه د پاکستان هېواد څخه راستنې شوې او په بایومتریک ډول ثبت او ورسره مرسته وشوه.

۱۶ کورنیو سره نغدې مرسته وشوه، ۳۱ کورنۍ په موقتي کمپ کې ځای پر ځای شوې، ۴۳ سیمکارتونه، د خوراکي توکو آماده کڅوړې، د څښلو وړ اوبه او د ژمنیو توکو کڅوړې په یادو شوو فرضي کرښو کې د ګومارل شوو کمېټو له لوري ووېشل شوې.

همدا رنګه یادو شویو کورنیو ته د اطلاعاتو او امربالمعروف او نهی عن المنکر کمېټو لخوا د نوم لیکنې، لېږد، مالي مرستو، د لنډ مهاله استوګنې او د هېواد پېژندنې، اسلامي نظام، مهاجرت، صبر او زغم، ښوونې او روزنې په اړه ګټور معلومات وړاندې شول.

لسګونه هغه کسان چې مسلکي او حرفوي اسناد یې درلودل وپېژندل شول او د چاودیدونکو توکو، نظافت ساتنې او عمومي پوهاوي په اړه راستنیدونکو ماشومانو ته معلومات ورکړل شول او دوی ته د رواني روغتیا په موخه د لوبو وسایل ورکړل شول.

## صد ها خانواده در ولایت ننگرهار، کمک شد

ویب سایت وزارت




برای ۵۰۰ خانواده، در ولایت ننگرهار کمک غیر خوراکی بتاریخ ۵ حمل توزیع شد.

خانواده ها شامل عودت کننده بوده که قبلاً از طرف ریاست مهاجرین آن ولایت، در و لسوالی سرخرود مورد شناسایی قرار گرفته بودند.

کمک های متذکره یک بسته صحی شامل ۱۶ قلم از جانب موسسه داکار بود که با نظارت ریاست امور مهاجرین توزیع شد.

## په لسګونو تنه مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**۵۵ تنه افغان مهاجرین د وري پر ۵ مه نېټه د تورخم له فرضي کرښې څخه هېواد ته راستانه شول.**

**د ننګرهار ولایت د تورخم سرحدي آمریت د معلوماتو پر بنسټ، ۸ کورنۍ چې ۵۵ تنه کېږي په جبري توګه له پاکستان هېواد څخه راستني شوې او د مهاجرینو چارو ریاست کې تر ثبتېدو وروسته د مرستو د تر لاسه کولو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او د مهاجرت نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوې**

## بیش از ۲۰۰ خانواده در ولایت غور کمک شد

ویب سایت وزارت




**د غور ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د وري پر ۵ مه نېټه په ۲۲۲ کورنیو د نغدي مرستې د وېش خبر ورکړی، په دغه کورنیو کې بېځایه شوې او راستنېدونکي شامل وو چې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو آمریت له لوري په شهرک ولسوالۍ کې ارزونه شوې وې، چې هرې کورنۍ ته ۱۳ زره او ۷۰۰ افغانۍ د ARAA مؤسسې لخوا ورکړل شوې .**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د حقوقي ملاتړ څانګې مرستیال د بامیانو ولایت د مهاجرینو د آمر سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



د بامیانو ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمر مولوي فضل عمر آخندزاده د وري پر ۵ مه نېټه  په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ د حقوقي ملاتړ څانګې له مرستیالې مېرمن والري سوبودوا سره په خپل کاري دفتر کې ولیدل.

په دې کتنه کې د بامیان ولایت د اقتصادي او ټولنیز وضعیت او د دغه کمېسیون د پلانونو په اړه خبرې وشوې.

د مهاجرینو چارو آمر د افغانستان له خلکو سره په سختو شرایطو کې د دغه ادارې د بشري مرستو قدرداني وکړه او زیاته یې کړه، چې د بامیان ولایت خلک د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د پراختیایي او زیربنایي پروژو د تطبیق او د مرستو د دوام غوښتونکي دي او همدا راز له ټولو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو څخه غواړي چې د کورنیو د ژوند او اړتیاوو د ښه کولو له پاره له هېڅ ډول هڅو او کوشش نه ډډه ونه کړي

## برای ۲۶۵ خانواده درولایت ارزگان کمک خوراکی توزیع شد

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**۲۶۵ خانواده برگشت کننده در ولایت ارزگان بتاریخ ۵ حمل کمک خوراکی دریافت نمودند.**

**خانواده های یاد شده که قبلاً از طرف اداره امور مهاجرین آن ولایت سروی شده بودند ۵ قلم مواد خوراکی کمک سازمان جهانی خوراک را با نظارت آمریت امور مهاجرین دریافت نمودند.**

## راپور: امنيتي ځواكونه انګليس كانال كي د كډوالو د كښتيو د مخنيوي لپاره خطرناک مانورونه كري

مهاجرنیوز



فرانسوۍ لوموند ورځپاڼې د یو راپور په خپرولو سره وایي چې د فرانسې امنیتي ځواکونو په یو شمېر مواردو کې د انګلیس کانال له لارې برېټانیا ته د کډوالو د سفرونو د مخنیوي لپاره «خطرناک» مانورونه ترسره کړي دي .

فرانسوۍ <u>لوموند</u> ورځپاڼې د شنبې په ورځ د مارچ په ۲۳مه د یو راپور په خپرولو سره چې لایټ هوز رپورټز ټولنې، برېټانوۍ دې ابزرور او المانۍ شپیګل مجلې یې هم چمتو کولو کې ونډه درلوده لیکلي دي، د فرانسې امنیتي ځواکونو یو شمېر مواردو کې انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتیو د مخنیوي لپاره خطرناک مانورونه ترسره کړي دي.

ورځپاڼې په خپل راپور کې دوو ویډیوګانو ته اشاره کړې ده. په لومړۍ ویډیو کې چې د ۲۰۲۳ د اکتوبر په ۹مه اخیستل شوې ده لیدل کېږي چې د ملي پولیسو یوه کښتۍ دنکرک بندر کې د کډوالو د یوې بېړۍ په شا او خوا کې را څرخي او داسې څپې ایجادوي چې له امله یې د کډوالو کښتۍ خپل تعادل له لاسه ورکوي. دا په داسې حال کې ده چې کډوالو لېږدوونکې بېړۍ کې چې شاوخوا ۳۰ کسان پکې سپاره دي اوبه ور ننه شوې دي. یاد کډوال بالاخره د امنیتي ځواکونو له خوا وچې ته راوستل کېږي.

دویمه ویډیو کې چې د ۲۰۲۳ په جولای میاشت کې پر ټیک ټاک خپره شوې ده لیدل کېږي چې د ابر الدوت د سمندري ژاندارمرۍ یوه کښتۍ بولونی سور مېر کې د کډوالو یوې بادي کښتۍ ته ضربه ورکوي. ورپسې یو ژاندارم له اوښکې بهوونکې ګاز څخه ډکه وسیله اوچتوي او د کښتۍ سپرلیو ته وایي چې ودرېږي.

دا هم ولولئ

<u>انګلیس کانال کې لادرکه شوی کډوال: سازمانونو د لټون عملیاتو د بیا پیل غوښتنه کړې</u>

د کډوالو د کښتیو د سورۍ کولو ادعا

په ورته مهال د شمال د دفاع او امنیت قومندانۍ د لومړۍ ویډیو اړه ویلي دي» :ورځ وه او موږ په یوه بندري سیمه کې موقعیت درلود. د پولیسو د عملیاتو هدف دا و چې د کښتۍ سپرلي د برک له ډنډ څخه لرې کړي. دا لومړی ځل و چې موږ وتوانېدو د دې طریقې په کارولو د یوې کوچنۍ کښتۍ مخه ونیسو او دا عمل منصرف کوونکی و. ټول مهاجر وژغورل شول او قاچاق وړونکي ونیول شول«.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

دغې قومندانۍ د دویمې ویډیو په اړه ویلي دي چې «کوم جبري عمل نه دی ترسره شوی «او د کډوالو لېږدوونکې کښتۍ د برېتانیا پر لور «په ازادانه ټوګه خپل مسیر ته ادامه ورکړې ده«.

لوموند همداراز د ځینو هغو کډوالو سره مرکه کړې ده چې ویلي یې دي یو شمېر سرتېري آن له کډوالو ډکې کښتۍ سورې کوي. خو سمندري قومندانۍ بیا دا ادعا رد کړې او ویلي یې دي چې تر ټولو مهمه موضوع د انسانانو ژوند ژغورنه ده.

دا هم ولولئ
<u>برېتانیا ته د کډوالو مرګونۍ سفر؛ یو افغان وایي له څو ځلو هڅو سربېره بیا هم د سفر هڅه کوم</u>

د ژغورنې عملیاتو په اړه تحقیقات

بل د بشري حقونو مدافعې لوموند ته ویلي دي چې د ۲۰۲۲ او ۲۰۲۳ ترمنځ کلونو کې انګلیس کانال کې د ترسره شویو څلورو عملیاتو په اړه قضايي پلټنې رواني دي .همدارنګه د ۲۰۲۳ له مني راهیسې د فرانسې د پولیسو د نظارت ملي ادارې د بولونی سور مېر څارنوالۍ د غوښتنې پر اساس د یو ژاندارم په اړه تحقیقات پیل کړي دي.

د دغه کس په اړه د ګمرک کارکوونکي او د پیوستون سندیکا استازي رمي واند پلانک شکایت ثبت کړی او ویلي یې وو چې ګواکې دغه ژاندارم سمندر کې د ژغورنې ملي ټولنې له یوه غړي څخه غوښتي وو چې د برک سور مېر ساحلي اوبو کې د یوې کښتۍ سورۍ کولو کې ورسره مرسته وکړي. په ورته مهال د مانش او شمالي سمندر قومندانۍ ویلي دي که چېرې دا موضوع ثابته شي، نو دا به یو «شخصي خو نامناسب عمل» وي.

که څه هم په ۲۰۲۳ کې د مخکني کال په پرتله د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر کم شوی دی، خو پر دغه لار سفر له خطرونو ډک دی. د شمالي سمندر د قومندانۍ د شمېرو له مخې، تېر کال ۲۴ کډوال په انګلیس کانال کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی .همدارنګه د رواني مارچ میاشتې په ۲مه یو سوریايي کډوال آ کانال کې ډوب شو. د لوموند ورځپاڼې د راپور له مخې، ویل کېږي چې د ژغورونکو عملیات د نوموړي د مړینې سبب شوی دی. د دې پېښې د څرنګوالي په اړه تحقیقات پیل شوي دي .

دا هم ولولئ
<u>فرانسه: په شمال کې د سېندونو له لارې برېتانیا ته د اوښتو هڅې زیاتې شوې</u>

## مدیر سازمان بین المللی مهاجرت: اظهارات ضد مهاجران در جهان افزایش یافته

مهاجرنیوز

مدیر عمومی سازمان بین المللی مهاجرت از افزایش اظهارات ضد مهاجران در گروه‌ها و محافل سیاسی در جهان انتقاد کرد و گفت این اظهارات شکاف‌های زیادی در جوامع بشری ایجاد کرده است. این در حالیست که به گفته او در سال روان میلادی بیش از نیم جمعیت جهان در کشورهای شان در انتخابات شرکت خواهند کرد.

امی پاپ، مدیر عمومی سازمان بین المللی مهاجرت در گفت‌وگو با خبرگزاری فرانسه از افزایش اظهارات ضد مهاجران در سطح بین المللی انتقاد کرد و گفت که این اظهارات در «کارزارهای انتخاباتی در جهان» چندین برابر شده است.

او در ادامه این گفت‌وگو که هفته گذشته انجام شد ابراز تاسف کرد که برخی از سیاستمداران، مهاجران را عامل تمامی بدبختی‌ها می‌دانند و عامل «افزایش سطح جنایات یا رکود مالی، بیکاری و ناامنی» تلقی می‌کنند. به گفته او مهاجران به این دلیل که «حق رای‌دهی» ندارند به «راحتی» مورد حمله قرار می‌گیرند.

**در همین زمینه**
**رهبر سابق فرانتکس حمایت خود را از حزب راست افراطی در انتخابات اروپا اعلام کرد**

**امی پاپ، نخستین زن امریکایی است که به مدیریت سازمان بین المللی مهاجرت رسیده و در کشورش شاهد کارزارهای انتخاباتی آتشین دونالد ترامپ، نامزد جمهوریخواهان در انتخابات امریکا، علیه مهاجران است.**

**رئیس جمهور پیشین امریکا که در نظرخواهی‌ها، از حمایت گسترده هوادارانش برخوردار است نسبت به «اشغال» مرزهای جنوبی این کشور توسط مهاجران هشدار داده و گفته است که تعدادی از این مهاجران«انسان نیستند.«**

**به گفته رئیس سازمان بین المللی مهاجرت، که در گذشته برای هردو جناح دمکرات‌ها و جمهوریخواهان کارکرده «وقتی بخشی از مردم با رفتار غیرانسانی روبرو هستند، موارد خشونت و تبعیض افزایش می‌یابد.«**

**در همین زمینه**
**ترامپ: مهاجران را به گونه گسترده اخراج خواهم کرد**

**امی پاپ در گفت‌وگو با خبرگزاری فرانسه تاکید کرد که اظهارات آتشین و هشدار دهنده در مورد مهاجران به ندرت با واقعیت‌های میدانی همخوانی دارد. او با اشاره به برخی از کشورهای اروپایی گفت تعدادی از این کشورها که در آن‌ها حملات ضد مهاجران رونق یافته، برای به کار انداختن چرخ اقتصادی خود به مهاجران نیاز دارند.**

**بر اساس آخرین آمار سازمان بین المللی مهاجرت، در سال ۲۰۲۳ دستکم ۸۵۶۵ مهاجر در مسیرهای مهاجرتی در جهان جان خود را از دست داده‌اند.**

## پاکستان مرحله دوم اخراج اجباری صدها هزار مهاجر و پناهجوی افغان را «آغاز می‌کند»

فارسی بی بی سی

**نمای کلی اردوگاه‌های موقت و کامیون‌های پناهجویان افغان که در ۲ نوامبر ۲۰۲۳ از پاکستان در مرز تورخم وارد ننگرهار شده بودند**

**دولت پاکستان اعلام کرد که مرحله دوم روند اخراج اجباری مهاجران افغان فاقد مدرک اقامت را آغاز می‌کند.**

**اداره ایالت خیبرپختونخوا در پاکستان گفته است که تا ۱۵ آوریل/اپریل روند شناسایی و تفکیک افغان‌های دارای کارت مهاجرتی و پناهجویان افغان تکمیل خواهد شد و تاریخ دقیق آغاز مرحله دوم روند اخراج اجباری «بیش از یک میلیون مهاجر افغان» را اعلام خواهد کرد.**

**یک منبع از این ایالت به روزنامه «دان» چاپ پاکستان گفته است که آغاز مرحله دوم اخراج گروهی افغان‌ها از پاکستان و این ایالت در حال حاضر در دستور کار دولت جدید و منتظر تایید اداره مرکزی فدرال است.**

**گزارش شده که وزارت کشور/داخله پاکستان در حال حاضر به تمامی اداره‌های مرتبط ایالتی دستور داده است تا کار تشخیص محل سکونت جمعی مهاجران و پناهجویان افغان را تکمیل و بررسی کنند که چه افرادی دارای چه نوع کارت مهاجرتی هستند.**

**عابد مجید، دبیر ارشد در اداره خیبر پختونخوا، به روزنامه «دان» گفته است: «ما از قبل روند تشخیص محلات زندگی افغان‌ها را آغاز کرده ایم...سرعت این روند بعد از ماه رمضان افزایش خواهد یافت و امیدواریم این برنامه تا ۳۰ آوریل/اپریل تکمیل شود.»**

خبرنامه